گفتمان ملی افغانستان

National Discourse on Afghanistan

دافغانستان ملي خبرې اترې

**د افغانستان د ملي خبرواترو د خوځښت اعلاميه!**

نېټه: د 2023 کال د جنوري 11 د 1401 کال د مرغومې 21

د سعودي عربستان په جده ښار کې د اسلامي همکاريو د سازمان کنفرانس درنو غړو ته!

---

نن د ۲۰۲۳زيږديز کال د جنورۍ په ۱۱مه د اسلامي هېوادونو مشران د طالبانو د مشرانو د بشري ضد او اسلامي ضد سياستونو، په مهمواړخونو لکه د پوهنتونونو او د ښځو د تعليمي موسسو د تړلو او پر هغوی باندې د دندې او په بهرنيو موسسو NGO ګانو کی د کار ،تر سره کولو بنديزونه د لګولو په اړه د بحث لپاره د جدې په ښار کې راغونډ شوي دي .

د طالبانو سر پست واکمن حکومت له نړيوالو اعلاميو، ميثاقونو او پروتوکولونو څخه سرغړونه کړې او د اسلامي همکاريو سازمان له روحيې او طرحو سره په ټکر کې دی، خاصتاً د اسلامی هيوادو سازمان چې له ملګرو ملتونو وروسته دويم نړيوال اعتبار لرونکی سازمان او مهم نړيوال اسلامي فورم دی چه د سولې په ټينګښت ، د اسلامي نړۍ د ګټو ساتنه او ملاتړ او د نړۍ د مختلفو اشخاصو او سازمانونو ترمنځ د يووالی او همغږي ملاتړې ده.

طالبان غواړي د شريعت په پلمه د افغانستان خلک بيرته منځني پيړی ته کش کړي.

د افغانستان د ملي خبرو اترو خوځښت د يوه روند انده فکري ځواک په توګه په دې باور دی چې افغانستان د دموکراسۍ د اصولو پر بنسټ نړۍ ته د يوه اسلامي هېواد په توګه ور وپيژندل شوې ،په داسې يو هېواد کې چه د يوه ځلانده تاريخ او سل کلن قانونې حاکميت لرونکې هيواد وه، نه بايد د ملي او نړيوالو قوانيو څخه سر غړونه وشې.

**په دې اړه، د لاندو ټکو ويل ضرور ګڼو او د زړه له کومې غوښتنه کوو:**

۱) د طالبانو له حکومت څخه بايد وغوښتل شي چې د ښځو لپاره د شرعي مساوي تعليم او کار لپاره غير قانوني خنډونه او بې ځايه پلمې جوړ نه کړي.

۲) طالبانو ته دې مشوره ورکړل شي چې د جمهوري دورې د اساسي قانون د تعديل او تصويب او يا د نوي اساسي قانون د چمتو کولو په اړه د افغانستان د خلکو عنعنوي لويه جرګه راوبلي. ځکه چې يوازې اساسي قانون او د هغه د غوښتنو پلې کول کولای شي د افغانانو ټول حقوق له هر ډول توپير او تبعيضه پرته تضمين کړي.

۳) د طالبانو د سرپرست حکومت لپاره اړينه ده چې د ملګرو ملتونو، د اسلامي همکاريو سازمان او نورو نړيوالو او سيمه ييزو سازمانونو سره پر خپلو ټولو ژمنو عمل وکړي.

۴) د افغانستان د ملي خبرو اترو خوځښت عقیده لري چې یوازې یو اسلامي حکومت د قانون پر بسټ او رڼا کې د ټولو هیوادوالو لپاره د نارینه او ښځینه په ګډون برابر، ټولنیز عدالت، انساني کرامت او بشري حقونو ته درناوي، د تابعیت د هویت پر بنسټ ملي یووالی، او د یوې هوسا ټولنې د رامنځته کولو او د ملي ګټو پر بنسټ د اقتصادي ژوند د کچې د لوړولو ژمنه کولاې شي.

۵) د اسلامي همکاریو د کنفرانس له مشرتابه څخه غوښتنه کوو چې پورتنی غوښتنې ، چې په اوسني پړاو کې د افغانستان د کړېدلي ولس د اساسي غوښتنو یوه برخه ده، په انساني او اسلامي خواخوږۍ سره په وړاندې کولو کې له پامه ونه غورځوي.

په درنښت

**د افغانستان د ملي خبرو اترو د همغږۍ او یووالي شورا.**